محمد ایاز نوري آزادي

۲۰۱۹/۰۱/۱۲

# ۲۴ د جدي ۱۳۰۷ل کال، ۱۴ جنوري ۱۹۲۹ز کال لکه د ملي ماتم ورځ

زما په نظر هدف د ماضي د یادولو یا تحلیل کولو څخه که پائله ئي نیکمرغه وي، د سر مشق جوړول او که بد مرغه وي، عبرت اخیستل باید وي.

د ۱۳۰۷ل کال د جدي د میاشتي ۲۴ - ۱۴ د جنوري ۱۹۲۹ز کال ورځ وه، د ژمي د سړو څپه په ټول افغانستان او پلازمیني کابل خپله برستن غوړولي وه. په همدي نېټي افغان له یوي خواء غیرتمند، مسلمان، استقلال پال او بلي خواء غافل بد بخته ولس، پخپل نژدي تېر تاریخ کي خپل یو په رښتیني تعریف کي ملي زعیم او ملي مشر اعلیحضرت غازي امیر امان الله خان (رحمت الله علیه) د تل لپاره له لاسه ورکړ. داسي نادر او کم پیدا کېدوونکئ بادشاه، چي له یوي خواء د خدائي اوسپنيزي عقیدي او افغاني غیرت په وسله او له بلي خواء د خپلواکي او د عامه ولس د خیر ښکني، عدالت او اخلاص په وسله باندي سمبال وه. د دغه شرافتمند بادشاه ځانګړتیا او موثروالی په دي مهم ټکي کي راټول شوی وه، چي پاچا زوی امان الله خان نه د هغه وخت د دوو استعماري قوتونو، روس شوروي او یا انګلیس په واسطه یا پټو لاسونو او یا هم مستقیمي عسکري مداخلي او یا هم د کورني کوم رزیل او داړه مار باندي لکه د سقاویانو باندي په ذریعه، بلکه د افغانستان د ټولني څخه د یو شمېر حقیقت خوښوونکو، آزادي پالو د وطن په قانوني او مدني پرمختګ مین روښان فکرو کسانو د پلان پر اساس،چي د لومړي او دوهم مشروطیت د سیاسي حرکت بنسټ وال ول، د بادشاهي مقام ته رسول شوی وه. د دغه جلیل القدر ملي مشر لومړني او اساسي خذمت د هېواد د سیاسي خپلواکي حاصلول د هغه وخت د انګلیسي استعمار څخه وه. لس کاله د افغانستان خپلواک بادشاه وه. په دغه لسو کالنو کي، چي د یوه هېواد د هر اخیز پرمختګ او آبادئ لپاره ډېر کم وخت او حتی صرف یو پیل ورته ویلای شو، دغه په ظاهر او باطن مُخلص واکدار شپه او ورځ د خپل وطن د ترقي لپاره کار وکړ. اما د دغه ځوان پاچا او ځوان دولت لپاره ئي اصلي او بنسټیز خنډ کورني افغاني خاینان او جواسیس، تفریط خوښوونکي مذهبیان او د خلکو جهالت او د سواد ډېره ټیټه کچه، په دولتي تشکیل کي هم د یو شمېر عیبونو شتون دا، چي دولت او زعیم ئي ځوانان، مستقل او مغرور ول، د پاچا او حکومت یو شمېر کلتوري اقدامات، چي په هغه زماني بهیر کي افغاني ټولني ته د هضم وړنه ول، او د افغان ملت کورنیو او بهرنیو دشمنانو کولای شوای، ورنه د پاچا او نوي دولت په بد نامولو کي خپله ناوړه استفاده ورځیني وکړي، د پاچا او مخلصو یارانو غفلت د یوه که څه هم د شمېر په لحاظ کوچني او موثر په عسکري دسپلین کلک ولاړ وسله وال پوځ په تاسیس کي، یوه بیداره او تل فعاله پاچا ته وفا لرونکي استخباراتي اداره، د پلازمیني کابل په دفاعي کرښو دقیق فکر کول او خصوصاً د شاهي ارګ د مدافعي عملي پلان جوړول د یوه نابېره غلچکي یرغل پر وړاندي کلک درېدل او دفاع کول... دغو ټکو ته خپله پاچا او نورو صلاحیت لرونکو ملګرو ئي سطحي نظر کړی وه. نتیجه د دغه غفلت دا ووته، چي یو داړه مار نه لوی وسله وال ګروپ په رڼا ورځ مخامخ په شاهي ارګ یرغل راووړ او اماني حکومت موثره او قاطع دفاع نشوه کولای.البته په کورني دشمن کي باید د انګلیس د هغو افغاني جواسیسو او ملي خاینانو ونده لکه د غازي پاچا اخشئ علي احمد خان لویناب، د دربار وزیر یعقوب جان، د کابل ښاروال احمد علیخان لودي، د کورنیو چارو وزیر عبدالاحد خان مایار وردګ، د معارف وزیر فیض محمد خان ذکریا او بیا دغو خاینانو سره وصل د نورو قدمو مامورینو مهمه او ټاکونکي ونده هم ذکر کړم، چي ظاهراً پاچا ته ډېر مخلص، چاپړس او غوړه مال اما په باطن کي وخته په دشمن خرڅ شوي ول. د هم دغو جګپوړو اراکینو ملي مسوولیت وه، چي هغوی د پاچا د شي او کیڼ بازو په توګه د ننګرهار د شینوارو د بغاوت په هم هغه پیل کي د پلازمیني کابل او د شاهي ارګ د دفاع اهمیت په نظامي اصولو کي تشریح کړی وای او د پاچا سره یو ځای دوی باید په هیڅ ډول کابل د وسله وال پوځ له قطعاتو څخه تش کړی نه وای. هغه مهم او ټاکوونکی ټکی، چي مرحوم غبار هم ورته اشاره کړی ده. ( لومړی ټوک، ۸۱۵ مخ دوهم پراګراف) وروسته بیا ولیدل شول،چي همدغه شاغلي د اماني دولت د سقوط څخه پس بیا د نادرشاه په خونړي حکومت کي، چي د وطن بهترین زامن د شرعي محکمي د حکم پرته د مرګ استقبال ته ولاړل، د دهمزنګ د وحشي زندان په تورو تیارو خونو کي واچول شول، لاکن دغه پاس نوموړي منافقین د هغه خطرناک او انګلیس راوستلي مکار بادشاه له خواء بیا هم نازولي او د لوړو حکومتي مقامونو خاوندان شول، د اماني ویاړمن دولت په سقوط کي کلک په نظر کي ولرو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




اعليحضرت غازي امير امان الله خان د ځوانۍ په جوش
کي د افغانستان يو مستقل زعيم او بادشاه، ۱۳۰۰ل کال

********************************

او د کور د باندي د هغه وخت د زور غړوونکي او په سياسي چارو کې ډېر تجربه لروونکي انګليس سره مخامخ د يوه ډېر اوږد سرحد لرل او د هغه ځواک له خواء په مستمره ډول د تخريبي خصوصاً پټو توطئو جوړول افغان مستقل دولت ته، پر له پسي د ستونځو خلق کول ول، چې له هرې حربې او وسيلي څخه ئې کار اخيست تر څو اماني دولت له ببخه تباه کړي، چې بلاخره انګليس دا کرغيړنه نقشه په پورتني ذکر شوي تاريخ د يوه داړه مار افغاني څو سوه کسيز باند په وجود کې، چې سروالي ئې يو جاهل او په ځلورو روان د سياست د شيطانيو څخه غافل په نوم دې حبيب الله (خادم دين رسول الله؟) مشهور په بچه سقاو کوله، عملي کړله او د افغانستان د رشيد ولس څخه ئې خپل غچ واخيست. د دغه غمجني پېښي صورتحال افغان ملت پال مبارز مرحوم مير غلام محمد خان غبار پخپل تاريخي کتاب، افغانستان در مسير تاريخ لومړی ټوک، ۸۱۵ مخ کې د (مقدمات يک توطئه بزرگ) تر عنوان لاندې کې څه داسي انځوروي:"بعد از آنکه دولت امانيه در داخل کشور با ضديت قوه های ارتجاعی و در خارج کشور با سياست مخالفانه دولت انگليس مقابل و بواسطه خرابی وضع اقتصادی مردم و سوء اداره از پشتيبانی توده های مردم محروم شد در افغانستان بر ضد او طرح يک توطئه عظيمی ريخته شد و دسته جات پراگنده مخالفين تمرکز يافته و عمليات تخريبی آغاز گرديد...". که مونږ دلته د تاريخپوه غبار دغه توضيح ته ځير شو، نوموړي د اماني دولت ضد هغه لومړنيو اقداماتو ته د عيبونه سره موازی د «توطئه بزرگ يا عظيم» نوم ورکوي، شه کله، چې د اماني دولت پر ضد توطئه او خرابکاري په کور کې د مرتجعينو او په بهر کې د انګليسي ظالم استعمار له خواء جوړيږي، دلته خو دولت بر حقه او توطئه کوونکی خاين واقع کيږي. که د اماني دولت مخالفين او منتقدين په حق وای، نو ولی د قانون له لارې د ليکلي عريضې، د ميز تر شاه د پاچا سره د خپلو غوښتنو د حاصلولو لپاره نه حاضريدل؟ بناً دلته مونږ حکم کولای شو، چې لاس د خيانت د کورنيو مخالفينو او د انګليس توطئه واضحه وه، چې دا مستقل دولت بايد محو شي او پر ځای ئې بايد داسي يو حکومت ټينګ شي، چې افغان ولس په هر لحاظ وځپي او په سيمه کې د انګليس د ګټو يو ساتندوی وي. غبار په ۸۲۳ مخ کې راوړي،"در طی اين هفته شاه (امان الله خان) ۲۶ قوس ۱۳۰۷ش از ارگ برآمد و در باغ عمومی کابل نطقی ايراد کرد و نظر خويش را راجع به ترقی کشور و ضرر اغتشاشات و لزوم دفاع سخن گفت. جمعيت صدای شکايت از مامورين دولت بلند کرد و يکی گفت امثال وزير دربار شما (محمد يعقوب خان) مانع آنند که فرياد مردم به شما برسد. فردای آن (۲۷ قوس طياره انگليسی بدون اجازه دولت در افغانستان داخل شد و در کابل اوراق اعلاميه حکومت انگليسی را به قرار ذيل فرو ريخت)" غلو سقاويانو ته ئې اخطار ورکړ، چې زمونږ سفارت ته زيان مه رسوی، نور مونږ درسره يو فقط غازي او مستقل امان الله خان بايد له منځه يوسو... شه، دلته په نوموړې نيته پاچا د خپلو خلکو مخته حاضريږي او نصيحت کوي، افغان ملت او خصوصاً د کابل ښار منورين د رامنځ ته شوو بغاوتنو د خطرناکو نتيجو ته متوجه کوي او هغوی د دغه توطئو پر ضد ملي دفاع ته راته بولي. په مقابل کې هيڅوک د دولت د سقوط او د پاچا د لرې کېدو غوښتنه نه کوي، بلکه د دولت د مامورينو د بد چلند

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

ښخه شکايت کوي! بل مهم مطلب دلته د انګليس د دولت بربنده په زور ولاړه مداخله ده، چې د هغه دولت يوه طياره د افغان مستقل او قانوني دولت د خبرتيا او اجازت ښخه پرته! عين د کابل ښار آسمان ته راننوځي او خپل ورکړل شوی کرغيړن ماموريت اجراء کوي او بېرته برتانوي هندوستان ته ستنيږي، چې د هغه دولت ضديت او سخت د دشمني احساس د غازي امان الله خان په مقابل کې په ثبوت رسوي. د همدغه غمجنې او برخه ليک ټاکونکې صحنې په باب بل افغان ملي مبارز، خبرياِل او د وضعيت حاضر کس مرحوم غلام محی الدين خان انيس پخپل کتاب، (بحران و نجات) ۶۴ مخ کې داسې ليکلي دي،"ساعت ۱۲ امان الله خان از ارگ پياده برآمده و در باغ عمومی بين يک جمع بزرگ نطق مفصلی ايراد نمودند، مفاد آن: «بعد از حصول استقلال يگانه آرزوی من معرفی کردن افغانستان در عالم بود، ولی اين اغتشاشات ما را در نزد عالم ميشرماند. برای استقرار امنيت از کجا آدم بياريم بايد به هر حال امنيت را در مُلک خود قايم سازيم. پس اسلحه ای که گرفته ايد برای همين مقصد استعمال کنيد. چرا برای خدمت امنيت در ميدان نه برآمده، خدمت نميکنيد؟» بعد از آن راجع به ترديد پروپاگند های تکفير که نسبت به او شان گفته شده، بيانی نمود. اينرا هم در آخر اضافه کردند که «من بی حجابی را جبراً اعلان نکرده ام. در خاتمه ضعف عسکريت را مخصوصاً اشاره کرده، گفتند: «بعد از اين به عسکر اعتناء خواهم کرد.» نفری از بين مردم بعد از ايراد يک تمهيد مختصر، شکايت متعددی از کارداران نموده، مخصوصاً وزير دربار را تنقيد نمود که مانع رسيدن صدای رعيت به شما ميشود". شه، دلته لولو د دغو دوو عزتمندو مورخينو اقوال سر سره خوري او انيس لړ اضافه په کې راوستلې ده. هر افغان دا احساس کولای شي، چې دا له باور ښخه خارجو وقايعو به هغه غازی او صادق پاچا ځومره اول په روحي ډول ځوراوه، چې ويل ئې دا حال مونږ د نړی نورو خلکو ته شرموي. پاچا امان الله خان ته د هغه د اروپائي وروستي سفر هغه صحنې مخته راتللې، چې د يوه افغان خپلواک زعيم په حيث ورنه د نړی نورو دولتونو په کومه اعلی کچه استقبال کاوه. او بيا چې د کابل د هغه وخت اوسېدونکو ته په شکايت او نه رضايت او غضب سره وائي، چې ولې «چرا در ميدان نه بر آمده، خدمت نمی کنيد؟» دلته مونږ ګورو، چې غازي پاچا د وضعيت د انکشاف او د کابل ميشتو وګړو ښخه مايوس ده او دا خصوصاً د هغه وخت بيغيرته او زبون او غافلو کابل ميشته خلکو حال او احوال مونږ ته رابربندوي، چې حکومت وسله درته لاس کې درکړې ده، نو ولې د مخربينو سره جګړه او له دولت نه مو دفاع نه کوی؟ پاچا دلته پخپله غلطي هم اعتراف کوي، چې عسکري وضعيت ته ئې بايد لازم پام او موثر اجراعات ورته کړي وای، خو بيا هم د خلکو مخته پخپله غلطي اقرار کوي او خلکو ته قول ورکوي، چې دا نقيصه به رفع کوي. غبار د دغو غمجنو وقايعو په تسلسل کې د کتاب په ۸۲۵ مخ کې داسې راوړي. "در صبح اين شب (۲۴ جدی - ۱۴ جنوری ۱۹۲۹) شاه امان الله خان با يک عده افراد خانواده و غير خانواده خود به سواری موتر پای تخت را ترک کرده و به قندهار روان شده بود. در صورتيکه هيچکس از حرکت او مسبوق نبود. حرکت امان الله خان در ساعت ۹ صبح بود و در ساعت ۱۰ طبق يک اعلان رسمی مامور و افسر و غيره در قصر دلکشا مجتمع گرديدند و بدون آنکه بدانند، چه حادثه ايست در حالت انتظار ماندند. بعد از مدتی سردار عنايت الله خان معين السلطنه برادر بزرگ شاه با سر منشی شاه وارد مجلس شد و در يک فضای سرد و خاموش و محزون که روز عزا را مانست، ورقه يی به امضاء شاه امان الله خان قرائت گرديد که دران گفته شده بود: خير مملکت مقتضی اينست که بايد دست از کار بکشم زيرا تمام خونريزی و انقلاباتيکه در مملکت است به سبب بر خلافی با من ميباشد. شاه درين ورقه استعفای خود از واگذاری سلطنت به برادر خود سردار عنايت الله خان تذکر داده بود، لهذا حضار به بعيت کردن شروع نمودند." فکر وکړو د دغو صحنو مُجسم کول د هر وطن پال افغان لپاره تر کومه حده افسوسناک تماميږي... . د همدغه پيښې په ارتباط د اماني دولت د آخري د بهرنيو چارو د وزير زوی شاغلي محمد خالد خان صديق ځرخي اوس مقيم د متحده ايالاتو پخپل ټليفوني تماس کې ما ليکونکي ته داسې وويل: « زما پلار غلام صديق خان ځرخي ماته داسې نکل کاوه، چې په همدغه سهار ۲۴ د جدی، ژمی او هوا ډېره سړه وه، سهار ۹ بجې له شاهي ارګ ښخه غازي امان الله خان او زه او يو شمېر نور پخواني وزيران يو ځای مو د موټرانو په ذريعه د کندهار په مخه حرکت وکړ. امان الله خان لومړی د قلعه قاضی سيمې ته ولاړ او د حضرت شاه قلعه قاضی ته، چې ورته ډېر ارادتمند وه، زيارت ته ورغی، هلته ئې دعا وکړله او بيا مو د امان الله خان په هدايت د غزنی او کندهار په لور حرکت ته دوام ورکړ.«

غازي امان الله خان د پرديتوب په تېغر د ايټاليا په روم
کې، چې د ژوند لمرئې نوره په لوېدو وه، ۱۹۵۷ز کال
********************************

پـائـله

مونږ په دغه لنډ تحريري انځور کې ګورو، چې د ګرانې هېواد افغانستان ولس په ۲۴ د جدي ۱۳۰۷ل کال خپل يو ملي مشر يا بل عبارت د هېواد د ژغورنې يو غوره امکان له لاسه ورکړئ دئ. له هم دغه نېټې ښخه پس د هېواد افغانستان انحطاط بېرته پيل او تر نن پورې دوام لري، چې بنسټ اېښودوونکي ئې امير حبيب الله سقاو زوی او دوام ورکوونکئ ئې ظالم او افغان دشمنه پاچا محمد نادرخان وه. د غازي امان الله خان د حقانيت په هکله زه دلته يو مهم او روښانه برهان دا هم وينم، چې د هغه مرحوم د سقوط ښخه پس، چې ۹۰ کاله تيريږي، مونږ افغانانو په ترتيب سره امير حبيب الله مشهور په بچه سقاو نهه مياشتې، نادر شاه ۴ کاله، ظاهر خان ۴۰ کاله، داود خان ۵ کاله، نور محمد تره کي يو نيم کال، حفيظ الله امين ۳ مياشتې، ببرک کارمل ۶ کاله، نجيب الله ۳ کاله، صبغت الله مجددي ۲ مياشتې، برهان الدين رباني ۴ کاله، محمد عمر ۶ کاله، حامد کرزی ۱۱ کاله، محمد اشرف غني ۵ کاله د

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

سیاسي واکدارانو په حیث ولیدل، لاکن یوي ئي هم د پاچا امان الله خان تشه ډکه نه شواې کړاى. نن د افغانستان غوڅ اکثریت یو د دغو سیاسي مشرانو څخه هم د اعلیحضرت امان الله خان د عظیم او شرافتمند شخصیت او ملي خدماتو سره نه برابروي.
مونږ (زمونږ دغه اوسنی نسل) به نه وو، حتی د اوسني په وینو ککړ کړان افغانستان د وضعیت په نظر کي نیولو سره، زمونږ څخه پس نسل به هم نه وي، لاکن یقین لرم زمونږ په افغانستان کي به پخپله اصلي معنی یو غیور او شرافتمند، د حق او حقیقت کلک پلوى افغان ولسمشر، امیر، یا خلیفه د واک په چوکۍ ناست وي او ورسره به د هغه په شان پتمن افغانان د وزیرانو په حیث، یوه د خلکو شوراء یا ملي شوراء یا پارلمان به د خلکو د ریښتینو غوره شوو استازو څخه جوړه، ولسمشر ته به وړاندیز کوي، چي د ۱۳۰۷ لمریز هجري کال د جدي د میاشتي ۲۴ نیټه باید د (ملي ماتم) د ورځي په حیث قبوله او تصویب شي. هر کال باید دا ورځ لکه یو ملي مصیبت د هیواد په گوټ گوټ کي د ولس د غونډو په ترڅ کي ولمانځل شي. په دغه ورځ باید مخکښان د افغانستان د معاصر تاریخ خصوصاً لومړی، دوهم او دریم مشروطیت د وطن د ریښتینو خذمتگارو سیاسي گوند په حیث وپیژني، د هغه ظلمونو یادونه باید وشي، چي امیر حبیب الله خان سراج، سقاوي او د نادري خاندان حکومتي واکمنو له خواء د مشروطیت د غورځنگ په پاکو او سرتیرو غړو ئي تر سره کړي دي او د هغو ملي قهرمانانو یادونه باید د وطن پالني د مثالونو په حیث خلکو او نورو نسلونو ته سر مشق شي. په همدي ورځ په ځانگړي ډول باید د افغانستان د استقلال د محصل غازي اعلیحضرت امیر امان الله خان د لوړ وطن دوست شخصیت او کارنامو او مظلوم واقع کېدلو په باب لازم او ضروري معلومات د څېړونکو له خوا خلکو او ولس ته تقدیم شي او هغه کس او کسانولکه امیر حبیب الله خان مشهور په بچه سقاو او ملگرو ئي او جنرال نادر خان او ملگرو ئې، چي تر ۱۳۳۹ل کال پوري د ژوندي پاتي غازي امان الله خان مقیم د ایټالیا سره خیانت او غداري کړي ده، هم باید خلکو ته توضیح او تقبیح او لازم عبرت ورڅخه واخیستل شي. ولس ته باید د هیواد دشمنان ورپیژندل او لازم عبرتناک درس د هغو وقایعو څخه واخیستل شي.
زما ارجمندو افغان ځوانانو! زما بالخصوص مخاطب تاسو یاست. نن، چي زه دغه تحریر کوم، زمونږ هیواد افغانستان سیاسي استقلال نلري او زمونږ ملي حاکمیت د ناټو د عسکري سازمان له خواء د متحده ایالاتو په سروالي، چي ټول هلته خپل نظامي شتون لري، تر پوښتني لاندي دئ. زمونږ د قانوني هیواد ځمکه او هوا د هغوی له خواء تر قبضي او څار لاندي ده. وسله واله جگړه د افغانانو او خارجي عسکرو تر منځ پخپل شدت سره روانه ده. د جگړي د دریدو او سولي کوم مطمین څرک لا تر اوسه نه بریښي. زمونږ د ټول ولس او ځوان نسل ملي مسوولیت نن تر پخواء لا درونډ دئ. لومړی د یوه واقعاً ملي مستقل حکومت د استقرار لپاره مبارزه وکړئ، چه دا هدف مو لاس ته راوړ، بیا (۲۴) د جدي د کړان غازي امان الله خان د ضایع کېدلو ورځ د (ملي ماتم) د ورځي په حیث رسماً په اساسي قانون کي درج او تجلیل باید شي. په پاى د دغو عرائضو مي، چي په لنډون کي تحریراً ذکر شول، زما توصیه هر افغان ځوان ته دغه ده، چي د ۱۳۰۷ل کال د جدي ۲۴ نیټه په ژور او یو وطن پال تفکر سره وڅېړئ،عجالتاً د دوو افغان ملي مبارزینو مرحومینو میرغلام محمد خان غبار د تاریخ کتاب (افغانستان در مسیر تاریخ لومړی ټوک ۷۵۱ مخ څخه تر ۸۳۷ مخ پوري، دوهم ټوک سر تر پایه)، غلام محی الدین خان انیس کتاب (بحران و نجات له پیل څخه تر ۹۰ مخ پوري)، د جرنیل یار محمد خان وزیري کتاب (د افغانستان د خپلواکی او نجات تاریخ) مطالعه کړئ.

یو شمېر افغان ځوانان د افغان معاصر تاریخ د حقیقت په درک سره د ملي قائد غازي امیر امان الله خان زیارت ته د دعا او درنښت لپاره ورغلي دي. ننگرهار - جلال آباد ښار، عکس تازه د فیسبوک خبری رسنی څخه

*******************************************************************************

پاى


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ